# افغانستان

# په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه

## ځانګړی راپور

## د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د عمدي او بې توپیره کارونې له امله افغان ولسي وګړو ته زیاتیدونکی زیان



انځور: غلام الله حبیبي/اي پي ای

کابل، افغانستان

اکتوبر، ۲۰۱۸

## عمومي کتنه

د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو [1] په تیره بیا ځانمرګو وسیلو له امله د افغان ولسي وګړو مرګ ژوبله په افغانستان کې تر ټولو لوړو کچو ته رسیدلې. ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د جګړې اړوند تاوتریخوالي نږدې نیمه یې ملکي تلفات اړولي او په زیاتیدونکي ډول په هغو بریدونو کې کارول شوي، چې ملکي وګړي یې په نښه کړي.

دغه ځانګړی راپور چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) له خوا چمتو شوی، د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي وګړو په ضد د عمدي او بې توپیره بریدونو د زیات شوي شمیر په اړه جدي اندېښنې مستندې کوي. په دغو بریدونو کې په عمده ډول د ځانمرګو او غیر انتحاري لاس جوړ چاودیدونکو توکو کارونه شامله ده: بمونه جوړ، پلان او ځای په ځای شوي چې د ملکي وګړو په ګڼه ګوڼه کې وچول شي، څو افغان ښځې، نارینه او ماشومان ووژني او ټپي کړي؛ معیشتونه ویجاړ کړي؛ ورځنی ژوند اخلال کړي او د خلکو ترمنځ وېره رامنځ ته کړي.

یوناما په دوامدار ډول د دولت ضد عناصرو [2] له خوا د ملکي وګړو په ګڼ میشتو سیمو کې د لاس جوړ چاودیدونکو توکو د بې توپیره کارونې له امله رامنځ ته شوي د ملکي تلفاتو لوړې کچې مستندې کړې، په هغو بریدونو کې د دغو توکو د کارونې په ګډون، چې عاملینو یې په کې د مشروع نظامي اهدافو په نښه کولو ادعا کړې. په داسې حال کې چې د ۲۰۱۸ کال له پیل راهیسې بې توپیره بریدونو په لوړه کچه د ملکي تلفاتو اړول جاري ساتلي، هغه بریدونه چې په مستقیم او عمدي ډول ولسي وګړي په نښه کوي، دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو تلفاتو نږدې نیمه یې برخه جوړوي. د دغو تلفاتو زیاتره برخه د ځانمرګو او غیر ځانمرګو ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوې.

په ۲۰۱۸ کې د دغو عمدي بریدونو په قربانیانو کې د قابلګۍ زده کوونکي او نور هغه زده کوونکي چې د کانکور ازموینې لپاره یې تیاری کاوه، د کریکټ او پهلوانۍ د سیالیو لوبغاړي او ننداره کوونکي، په جوماتونو کې عبادت کوونکي، د بشري مرستو کارکوونکي، د پوهنې کارمندان، د دولت ملکي کارمندان چې د افغانانو لپاره یې اړین خدمتونه وړاندې کول، همدارنګه هغه ملکیان چې د دولتي خدمتونو ته د لاس رسي په لټه کې وو، د ټاکنو کارمندان او هغه نارینه او ښځې شامل دي، چې په ټاکنیزه پروسه کې یې د ګډون هڅه کوله. د شدیدې اندېښنې وړ ده، چې روغتیایي کارمندان او ژورنالستان چې ځانمرګو او ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو نورو بریدونو ته یې رسیدګي کوله هم د دغه ډول وسیلو له خوا په نښه شوي. سربیره پر دې، یوناما باوري راپورونه تر لاسه کړي، چې دولت ضد عناصر د ځانمرګو بریدونو د ترسره کولو او همدارنګه د لاس جوړ چاودیدونکو توکو د لېږد او ځای پر ځای کولو لپاره ماشومان کاروي.

پر قربانیانو او د هغو پر کورنیو د چټک او مستقیم زیان وړ هاخوا، په ټوله کې پر وګړو د ځانمرګو او د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو نورو بریدونو اوږد مهالې اغیزې له پامه نه شي غورځیدلی. په ملکي میشتو سیمو کې له جګړې جلا، د دغه ډول بریدونو د وړاندوینې نه وړ ماهیت د دې لامل شوي چې عام افغانان د بلې چاودنې په ویره کې ژوند وکړي او په شدید ډول یې د هغوی دا وړتیا اغیزمنه کړې، څو په عادي ډول خپل ورځنی ژوند پرمخ یوسي.

دا په ځانګړي ډول د اندېښنې وړ ده، چې د دغو بریدونو زیات شمیر کوم چې ملکي وګړي په نښه کوي په څرګند او مشخص ډول د شیعه مذهبه لږکیو په وړاندې ترسره شوي، چې زیاتره یې هزاره توکمه دي.

---

[1] د لاس جوړ چاودیدونکو توکو د تعریف لپاره د اصطلاح ګانو برخه وګورئ.
[2] همدا ماخذ

ځانمرګي او د لاس جوړ چاودیدونکو توکو بریدونه چې پر ملکي وګړو ترسره شوي، او همدارنګه د دغو تاکتیکونو بې توپیره کارونه د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونه ګڼل کیږي، کوم چې ښایي جنګي جرمونه تشکیل کړي. د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو پراخه کارونه چې د ملکي وګړو په ضد ترسره شوې وي (د دیني او/یا قومي لړکیو په ګډون)، ښایي همدارنګه د بشریت په وړاندې جرمونه تشکیل کړي.

ماموریت له حکومت څخه غوښتنه کوي، چې د هغو بریدونو شکل/نوعیت چې ملکي وګړي یې په نښه کړي وڅیړي، په بشپړ ډول مستند او شفافه کتنه ترسره کړي، د هغو بریدونو په ګډون چې د شیعه مذهبه ټولنې په وړاندې ترسره شوي او د عاملینو د احتساب د یقیني کولو لپاره ګړندي ګامونه پورته کړي. دغه راپور د بیړنیو اقداماتو د ترسره کولو لپاره یو شمیر سپارښتنې وړاندې کوي، څو د دغو بریدونو په پایله کې د نورې ولسي مرګ ژوبلې مخنیوی وشي. یوناما یو ځل بیا پر دولت ضد عناصرو غږ کوي، چې زر تر زره د ملکي وګړو او ملکي شیانو عمدي په نښه کول او ملکي میشتو سیمو کې د لاس جوړ چاودیدونکو توکو بې توپیره او بې تناسبه کارونه پای ته ورسوي او همدارنګه د فشاري ماینونو کارونه سملاسي ودروي.

**ماموریت**

دغه ځانګړی راپور د یوناما په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې د ۲۰۱۸ د دریمې ربع د راپور بشپړوونکی دی: د جنوري له لومړۍ د سپتمبر تر ۳۰ نېټې پورې، کوم چې د پېښو د ټولو ډولونو اړوند ملکي تلفات او زیان تر پوښښ لاندې نیسي.[3]

دغه راپور د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۴۰۵ (۲۰۱۸) پریکړه لاندې د یوناما له ماموریت سره سم خپور شوی، چې "د ملکي وګړو وضعیت وڅاري، هڅې سره همغږې کړي، څو د هغوي ساتنه یقیني کړي، [...] احتساب ته وده ورکړي او د اساسي ازادي ګانو او د افغان اساسي قانون او نورو هغو نړیوالو تړونونو د احکامو په بشپړ تطبیق کې مرسته وکړي، چې افغانستان یې غړیتوب لري."

یوناما پر ملکي وګړو د وسله والې جګړې د اغیز د راکمولو لپاره یو شمیر فعالیتونه ترسره کوي، لکه د ملکیانو د مرګ ژوبلې د اندېښنې لرونکو پېښو خپلواکه او بې طرفه څارنه او د حقیقت موندنې ترسره کول، د جګړې له ټولو ښکیلو خواوو سره مدافعه او د داسې نوښتونو رامنځ ته کول چې د بشرپالنې او بشري حقونو له نړیوالو قوانینو او دغه راز د افغانستان له اساسي قانون او نورو داخلي قوانینو سره تطابق ته وده ورکوي.

**عمومي جریانات او د مسوولیت منسوبونه**

د ۲۰۱۸ کال په اوږدو کې، دولت ضد عناصرو په ملکي میشتو سیمو کې او د ملکیانو په ضد خپل بریدونه زیات کړي، چې په زیاته کچه ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي کاروي، کوم چې په زیاته اندازه چاودیدونکي مواد لري او دغه راز څو ډوله وسیلې کاروي، چې له امله یې په لوړه کچه ملکي تلفات رامنځ ته شوي.

د ۲۰۱۸ کال په دریمه ربع کې د ځانمرګو او غیر انتحاري د لاس جوړ چاودیدونکو توکو ګډې کارونې امله ملکي مرګ ژوبله د ریکارډ لوړو کچو ته رسیدلې، چې دولت ضد عناصر په زیاتیدونکي ډول دغه ډول بریدونه په مشخص ډول د ملکي وګړو په ضد ترسره کوي. د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د ځانمرګو او د ځانمرګو پرته ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د بریدونو په پایله کې ۳۶۳۴ ملکي تلفات (۱۰۶۵ مړه او ۲۵۶۹ ټپیان) مستند کړي. د تلفاتو دغه شمیرې ۲۴۷ د ښځو تلفات (۷۲ مړه او ۱۷۵ ټپیان) او ۶۰۸ د ماشومانو تلفات (۱۵۵ مړه او ۴۵۳ ټپیان) رانغاړي. د دغه راپور له خوا په تر پوښښ لاندې نیول شوې موده کې، د لاس جوړ د چاودیدونکو توکو ځانمرګو بریدونو زیات شمیر ښځې او ماشومان وژلي او ټپي

[3] دغه راپور به د اکتوبر په نیما یې کې خپور شي. دغه انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports.

کړي، چې په عمده ډول د هغو ملکي موخو په عمدي نښه کولو کې د زیاتوالي له امله رامنځ ته شوي، چیرې چې ښځې او ماشومان موجود وو.

د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ او سپتمبر د ۳۰ ترمنځ، د لاس جوړ چاودیدونکو توکو د ټولو ډولو د بریدونو له امله ملکي تلفات د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله ۲۱ سلنه لوړ شوي، په داسې حال کې چې د لاس جوړ د چاودیدونکو توکو ځانمرګو بریدونو له امله ملکي تلفات ۴۶ سلنه لوړ شوي. د ځانمرګو لاس جوړ چاودیدونکو توکو[4] په یوازې ځان د ځمکنیو نښتو[5] په ګډون د بل هر تاکتیک په پرتله زیات ملکي تلفات اړولي.[6] غیر ځانمرګي ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو[7] هم په لوړه کچه د ملکي تلفاتو اړول جاري ساتلي- چې د زیاتې اندېښنې وړ یې د قرباني په وسیله فعالیدونکي د بې توپیره فشاري ماینونو له امله رامنځ ته شوي.

د دغه راپور په موده کې یوناما د ځانمرګو او ځانمرګو غیر ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو ټول ملکي تلفات دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي، چې ۵۲ سلنه ملکي تلفات داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې، ۴۰ سلنه طالبانو او پاتې برخه نامعلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي.

**د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو په وسیله په عمدي ډول د ملکیانو په نښه کول**

*"د پېښې پر مهال زه د کریکټ یو لوبغاړی او د ټیم غړی وم. موږ پچه وګټله او لومړی مو د منډو جوړولو پریکړه وکړه. موږ خپله لوبه پوره کړه او یوه لنډه دمه وه، چې یو شمیر میلمانه د ټورنمنټ په اړه د لنډې وینا لپاره رابلل شوي وو. مخکې تر دې چې ویناوې پیل شي، ما د چاودنې غږ واورید او یو سور لوګی مې وکوت. ما خپله وینه وکتله او پوه شوم چې ټپي شوی یم. ما منډه کړه؛ د بلې چاودنې غږ مې واورید او بیرته ودریدم. یو وخت لپاره ولاړ وم، خو د وینې د بهیدنې له امله بې هوښه شوی وم. تر یو څه وخت وروسته، خلکو زه روغتون ته یوړم... د لوبغاړو او لوبغالي په ضد برید د بشریت خلاف کار دی."*

- د ۲۰۱۸ د مۍ پر ۱۸ په جلال اباد کې د کریکټ پر سیالۍ د ریموټي بم په برید کې یو ټپي شوی ۱۶ کلن هلک

په ۲۰۱۸ کال کې ماموریت د بریدونو په شمیر کې یو هیښوونکی زیاتوالی مستند کړی، چیرې چې دولت ضد عناصرو د دواړو ځانمرګو او غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو په وسیله په عمدي ډول ملکیان او ملکي شیان په نښه کړي، چې په لوړه کچه یې ملکي تلفات او ټولنیز اخلال او همدارنګه د ملکي وګړو ترمنځ ویره رامنځ ته کړې. د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د ځانمرګو او غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د بریدونو په پایله کې چې په عمدي ډول یې ملکیان په نښه کړي ۲۳۵۴ ملکي تلفات (۶۷۶ مړه او ۱۶۷۸ ټپیان) مستند کړي، چې د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله د ملکي تلفاتو په شمیر کې دوه پر درې زیاتوالی او د بریدونو په شمیر کې نږدې دوه برابره زیاتوالی په ډاګه کوي. د ځانمرګو او د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو نور هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکیان په نښه کوي، د ملکي تلفاتو ۶۵ سلنه او دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو ټولو ملکي تلفاتو نږدې نیمایي برخه جوړوي.

---

[4] په دغه راپور کې، یوناما د " ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو ځانمرګي" یا "ځانمرګي بریدونو" اصطلاح د دې لپاره کاروي، چې ټول هغه بریدونه په کې شامل کړي، چې مرتکبینو ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي په ځان یا نقلیه وسیله کې ځای په ځای کړي وي او د چونې پرمهال یې پر وژنې تمام شي. په دغو کې "ډله ییز بریدونه" هم شامل دي په کومو کې چې راتلونکي عناصر شامل دي: دوه یا زیات بریدګر او دوه یا څو ډوله وسلې، چې یوه وسله یې ځانمرګي د ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي وي.

[5] د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما ۴۵ سلنه ملکي تلفات د دولت ضد عناصرو له خوا ځانمرګو د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو او نورو چاودیدونکو توکو کارونې او د ملکي تلفاتو ۲۹ سلنه د جګړې د ټولو ښکیلو خواوو ترمنځ ځمکنیو نښتو ته منسوب کړي.

[6] د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د ځانمرګو او ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د کارونې له امله ۲۳۴۳ ملکي تلفات (۷۱۴ مړه او ۱۶۲۹ ټپیان) مستند کړي.

[7] یوناما د ځانمرګو او ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي په پراخه کچه په دریو کټګوریو ویشي: د قوماندې کنترول د لاس جوړ چاودیدونکي توکي (لکه د راډیو یا ریموټ کنترول له لارې)؛ د قرباني له لارې د لاس جوړ چاودیدونکي توکي (لکه فشاري ماینونه، د تار د شارټې له لارې چاودیدونکي توکي، چې زیاتره یې د پرسونل ضد ځمکني ماینونه دي)، او د ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي لکه ساعتکي، چسپکي او نور د لاس جوړ چاودیدونکي توکي چې د چولو لپاره یې د ماشې/فعالیدو ډول نه وي معلوم شوی.

د ځانمرګو او د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو نور بریدونه چې ملکي وګړي په نښه کوي په څرګند او مشخص ډول د شیعه مذهبه لږکیو په وړاندې ترسره شوي، چې زیاتره یې هزاره توکمه دي (د لا زیاتو معلوماتو لپاره راتلونکې برخه وګورئ).

په ملکي اهدافو او شیانو کې چې د دولت ضد عناصرو له خوا په عمدي ډول په نښه شوي د سپورت لوبغالي، جوماتونه، ښوونځي، روغتیایي کلینیکونه او هغه محوطې (کمپاونډ) چې د بشري مرستو ادارې په کې میشتې دي او د رایه اچوونکو د ثبت مرکزونه شامل دي.

د ټاکنو پر اړوندو ساحو بریدونه په ځانګړې ډول د پام وړ وو، څرنګه چې د رایه اچوونکو د ثبت مرکزونه په ملکي ودانیو کې جوړ شوي لکه ښوونځي، جوماتونه او روغتیایي کلینیکونه، چې پر دغو مرکزونو بریدونو په دوامدار ډول زده کوونکي، ښوونکي، دیني مشران، عبادت کوونکي، روغتیایي کارمندان او ناروغان اغیزمن کړي. د مثال په ډول، د مئ پر ۶ په خوست ښار کې په جومات کې د رایه اچوونکو د ثبت پر مرکز د لاس جوړ چاودیدونکو توکو په یوه برید کې د شپږو هلکانو او څلور ښځو په ګډون، ۱۷ ملکي وګړي ووژل شول او ۳۵ نور ټپي شول. د اپریل پر ۲۲ په کابل ښار کې، یوه ځانمرګي بریدګر په یوه هزاره نفوذه سیمه کې، یوه ښوونځي ته څېرمه د تذکیرو د ویش مرکز مخې ته د ملکیانو د یوې ډلې ترمنځ په ځان پورې تړلي چاودیدونکي توکي وچول، چې د ۲۳ ښځو، اوو هلکانو او دریو نجونو په ګډون یې ۶۰ ملکي ووژل او د ۶۵ ښځو، ۱۱ هلکانو او شپږو نجونو په ګډون یې له ۱۳۸ زیات نور ټپي کړل. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د برید مسوولیت پر غاړه واخیست.[8]

د ځانمرګو او د ځای په ځای شوي  چاودیدونکو توکو د نورو بریدونو له امله چې ملکیان په نښه کوي او مسوولیت یې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې اخیستی وي، ملکي تلفات په دوامدار ډول لوړیږي. د ۲۰۱۸ کال جنوري د لومړۍ او د سپتمبر د ۳۰ ترمنځ، یوناما د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې له خوا د مسوولیت منل شویو په ۳۲ ځانمرګو او د لاس جوړ چاودیدونکو توکو نورو بریدونو له امله ۱۵۱۳ ملکي تلفات (۴۴۳ مړه او ۱۰۷۰ ټپیان) مستند کړي، چې د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې پر مهال د یوناما له خوا د مستند شویو ملکي تلفاتو په پرتله ۲۲۳ سلنه زیاتوالی او ۱۷ نور اضافي پیښې په ډاګه کوي. یو زړه بګنونکی برید چې د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې له خوا یې مسوولیت منل شوی او د مئ پر ۱۸ د ننګرهار ولایت په جلال اباد ښار کې رامنځ ته شو، کله چې څلور ریموټي بمونه د کریکټ د یوې سیالۍ د دمې پرمهال د وینا کولو په وخت کې وچول شول.[9] د دغې پیښې پرمهال د یوه هلک په ګډون اته ملکیان ووژل شول او د دریو هلکانو په ګډون ۵۵ نور ټپي شول.

د پام وړ په یوه بل مثال کې، د جولای پر ۳۱ نېټه، بریدګرو د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو ریاست مخې ته د یوې غونډې پرمهال چې د نادولتي ادارو او د ملګرو ملتونو غړو په کې ګډون کاوه په موټر کې ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي وچول. بریدګر د ریاست ودانۍ ته ننوتل او په بې توپیره ډول یې پر هغو ملکیانو ډزې وکړې او لاسي بمونه ګذار کړل، چې د پټیدو یا تېښتې هڅه یې کوله. په برید کې ۱۵ ملکیان ووژل شول او د دوو نجونو، دوو هلکانو او دریو ښځو په ګډون له ۲۸ زیات نور ټپي شول. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د برید مسوولیت پر غاړه اخیستی.[10] د څلور ورځو په موده کې دا درییمه پیښه وه، چې په ننګرهار ولایت کې د ځانمرګی ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو په وسیله په کې ملکیان په نښه شوي.

---

[8] په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما شپږ میاشتني تازه معلومات او د ټاکنو اړوند امنیتي پیښو په اړه په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه ځانګړی راپور وګورئ. په افغانستان کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما ټول راپورونه په دغې انټرنیټ پاڼه کې د لاس رسي وړ دي: http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports. په کابل کې د اپریل د ۲۲ برید د مسوولیت ادعا په دغې انټرنیټ پاڼه کې د لاس رسي وړ دی: https://ent.siteintelgroup.com/Statements/is-khorasan-province-claims-100-casualties-in-suicide-bombing-at-voter-registration-center-in-kabul.html په وروستي ځل د ۲۰۱۸ کال د اګست پر ۸ لیدل شوې.

[9] د پیښې مسوولیت د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د راډیو سټیشن له لارې دغې ډلې پر غاړه واخیست، کوم چې په ننګرهار ولایت کې خپرونې کوي. له یوناما سره په دوسیه کې موجود دی.

[10] د پیښې مسوولیت په دغې انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ دی: https://news.siteintelgroup.com/Jihadist-News/is-khorasan-province-claims-2-man-suicide-raid-on-department-of-refugees-and-returnees-in-jalalabad.html په وروستي ځل د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر پر ۴ کتل شوې.

ماموریت همدارنګه د دولت ضد عناصرو له خوا د هغو بریدونو په اړه چې روغتیایي کارمندان او ژورنالستان په نښه کوي، څوک چې بریدونو ته رسیدګي کوي، جدي اندیښنې په ډاګه کوي. د مثال په ډول د ۲۰۱۸ د اپریل پر ۳۰، یوه ځانمرګي بریدګر په کابل ښار کې د ملي امنیت له تروریزم سره د مبارزې ریاست مخې ته ځان وچوو، چې ۲۱ ملکیان یې ووژل او ۴۲ نور یې ټپي کړل. دویم ځانمرګي بریدګر د لومړیو مرسته رسوونکو او ژورنالستانو ترمنځ د پیښې ساحې ته د هغوی تر رارسیدو لږ وروسته په ځان پورې تړلې چاودیدونکي توکي وچول. د عیني شاهدانو او امنیتي ځواکو د معلوماتو سره سم، دویم بریدګر یوه کامره او د خبریالانو جعلي کارت له ځان سره لیږدول چې ځان یې یو خبریال معرفي کاوه. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د دواړو بریدونو مسوولیت منلی، او په څرګنده یې د دویم برید مسوولیت پر غاړه اخیستی چې "کافر امنیتي ځواکونه او رسنۍ [څوک چې] د پیښې ساحې ته په بیړه لاړ وو وژلي".[11]

یوناما همدارنګه د ځانمرګو او د لاس جوړ چاودیدونکو توکو د نورو بریدونو په پایله کې چې ملکیان یې په نښه کړي او مسوولیت یې د طالبانو له خوا پر غاړه اخیستل شوي په ملکي تلفاتو کې درې برابره زیاتوالی مستند کړی. تر اوسه پورې په ۲۰۱۸ کال کې اوه دغه ډول بریدونه مستند شوي، چې په پایله کې یې ۴۱۵ ملکي تلفات (۱۵۲ مړه او ۲۶۳ ټپیان) رامنځ ته شوي، چې زیاتره یې د ځانمرګي موټر بم په یوه برید کې چې د ۲۰۱۸ په جنوري کې په کابل کې د دولت یوه اداري ودانۍ مخې ته ترسره شو او له امله یې نږدې ۳۵۰ تلفات واوښتل، رامنځ ته شوي.[12] په عام ډول د ۲۰۱۸ کال په لومړیو نهو میاشتو کې، یوناما په ۳۰۲ جلا پیښو کې چې هغه بریدونه په کې شامل دي چې ځانمرګي او ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو نور تاکتیکونه کاروي، ۱۴۶۸ ملکي تلفات (۴۶۰ مړه او ۱۰۰۸ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي.

## د فرقه ییز انګیزو درلودونکي بریدونه چې شیعه مسلمانان په نښه کوي

*" زما مور، زما وریره او زه د جومات په دوهم منزل کې و. مور د لمانځه د ادا کولو په موخه خپل جای نمازونه هوار کړي و چې کله مو د ډزو غږونه واوریدل. ټول د جومات د عمومي دروازې په لور په منډو شو. هغوی د کښته پوړ څخه په مور ډزې کولې، خلکو د عبادت خونې په لور په منډو پیل وکړ او دا هغه وخت و چې زما غریبه مور یې وویشته او په ځمکه ولویده- په عین وخت کې زما وریره هم په ډزو ولګیده او هغه هم په ځمکه ولویده. زه په ښي لاس په ډزو ولګیدم او په ځمکه ولویدم. ما ډیره وینه ضایع کړه. زمونږ مرستې ته هیڅا هم را و نه دانګل او یوه غټه چاودنه را منځ ته شوه. زه د ماتو ښیښو له امله په سینه او مخ ټپي شوم. کله چې مونږ په روغتون کې و نو مونږ د خپلې مور په اړه پوښتنې کولې او مشر ورور راته وویل چې زمونږ مور په بل روغتون کې ده. کله چې مونږ د روغتون څخه مرخص شو نو مونږ ته ورور وویل چې نوموړې په همهاغه ورځ په جومات کې ووژل شوه."[13]*

د ۲۰۱۸ کال د اګست په ۲۵ په کابل کې د شیعه جومات په وړاندې د یوه ډله ییز برید ښځینه قرباني

په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کال کې د مشاهده شوې ځورونکي تمایلاتو سره په سمون کې، د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ نیټې او د اګست د ۳۰ نیټې تر منځ، دولت ضد عناصرو د شیعه دیني لږکیو مسلمانانو په وړاندې څوک چې تر ډیره په قوم هزاره دي، بریدونو ته دوام ورکړی.[14] د ۲۰۱۸ کال په اولو نهو میاشتو کې، دغه ډول بریدونو ۷۰۵ ملکي تلفات (۲۱۱ مړینې او ۴۹۴ ټپي کیدنې) را منځ ته کړې، د یوه ځانمرګي برید په استثنا چیرې چې ټولې ادعاوې یې داعش منلې. یوناما د شیعه مسلمانانو د ټولنې په وړاندې د ۲۰۱۸ کال د نهو میاشتو په جریان کې د رهبرۍ شویو بریدونو د دوامداره بڼې په اړه په ډیره خواښینې سره یادونه کوي- یوناما

---

[11] د پیښې مسوولیت په دغې انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ دی: https://twitter.com/Terror_Monitor/status/990861445477863424 په وروستي ځل د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر پر ۴ کتل شوې.

[12] د کورنیو چارو وزارت پر اداري ودانۍ د ۲۰۱۸ کال د جنوري د ۲۷ برید په پایله کې ۱۱۴ ملکیان ووژل شول او ۲۲۹ نور ټپي شول.

[13] د قرباني سره د یوناما مرکه، د یوناما دفترونه، کابل ښار، د ۲۰۱۷ کال د سپتمبر ۷

[14] په افغانستان کې زیاتره شیعه مسلمانان د هزاره نژاد څخه دي او د افغانستان د سني مسلمانانو اقلیت جوړوي.

د ۲۰۱۷ کال د ټولې مودې په پرتله، د ۲۰۱۸ کال په نهو میاشتو کې د شیعه لړکیو مسلمانانو په وړاندې د دغو بریدونو په پایله کې زیات ملکي تلفات مستند کړې.[15]

په دې نږدې کې یعنې، د ۲۰۱۸ کال د سپټمبر په ۵،دوو چاودنو (یوه ځانمرګي چې په ځان پورې یې ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي تړلي و او په یوه نقلیه وسیله کې ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي) د کابل ښار د ناظر کلا په یوه سپورتي کلپ کې د غیږ نیولو د مسابقي نندارچیان په نښه کړل چې په نتیجه کې یې ۲۹ ملکي کسان ووژل شول او د ماشومانو په شمول د ۹۲ څخه زیات نور ټپیان شول. د دې ویرونکي برید په قربانیانو کې ورزشکاران، نندارچیان او ماشومان شامل وو. یوه ځانمرګي بریدګر په یوه سپورتي کلپ کې هغه مهال خپل چاودیدونکي توکي وچول چې کله مسابقه روانه و، چې په نتیجه کې یې کم تر کمه په لسګونو کسان ووژل شول او د څه ناڅه ۳۰ څخه زیات ټپیان شول. له هغه ورسته بیا کلپ ته څیرمه یو موټر بم وچاودید چې په لومړي سر کې یې په سیمه کې ځواب ویونکي او خبریالان هدف وګرزول چې په نتیجه کې یې پاته ملکي تلفات را منځ ته شول. داعش ډلې د برید مسوولت په غاړه واخیست.[16] د ۲۰۱۸ کال په اګسټ میاشت کې دوه ورته وژونکي بریدونه ترسره شول چې په نتیجه کې یې ۷۳ ملکي کسان ووژل شول او نور ۱۶۱ ټپیان شول. د اګسټ په دریمه په لومړي برید کې،دوو نارینه ځانمرکو بریدګرو چې بورقې یې اغوستي وې د ګردیز ښار د خواجه حسن د کلي د شیعه ګانو د امام زمان په جومات کې د جمعې د لمانځه پر مهال خپل چاودیدونکي توکي د عبادت کونکو په منځ کې وچول چې په نتیجه کې یې د لسو ماشوانو په ګډون ۳۳ تنه ملکي کسان ووژل شول او د ۷ ماشومانو په ګډون یې ۹۴ کسان ټپیان کړل. په دوهمه پیښه کې، د ۲۰۱۸ کال د اګسټ په ۱۵، د کابل ښار د دشت برچي د نقاش په سیمه د شیعه لړکیو په ګاونډ کې، یوه ځانمرګي بریدګر خپل چادیدونکي توکي د موعود د تعلیمي مرکز په یوه ټولګي کې وچول چې په نتیجه کې یې ټولټال ۴۰ ملکي کسان ووژل شول او نور ۶۷ کسان ټپیان شول. د دواړو بریدونو مسولیت د داعش ډلې ومانه.[17]

**د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو بې توپیره کاول**

د ملکي کسانو د مستقیم په نښه کولو سربیره، دولت ضد عناصرو په ملکي سیمو کې د لاس جوړ چاودیدونکو توکو بې توپیره کارولو ته دوام ورکړی چې په نتیجه کې یې افغانانو ته د پام وړ زیانونه اړولي. په دې کې د لاس جوړ چاودیدونکو توکو د ځانمرګو بې توپیره کاول او همدراز د قرباني شخص په واسطه د فشار په ذریعه د چاودیدونکو توکو کارول شامل دي، کوم چې د چاودنې له لحاظه په اصل کې بې توپیره دي .

د جولای په ۲۲، د کابل د نړیوال هوایي ډګر په ننوتونکي دروازه کې چیرې چې ډیرى افغان ځواکونو د افغانستان د لومړي مرستیال جنرال عبدالرشید دوستم د راستنیدو پر مهال د امنیت په برابرولو بوخت وو یو ځانمرګی برید ترسره شو. د نوموړي یو شمیر زیات طرفداران هم په کڼه ګوڼه کې و، د چاودنې له امله ۲۷ ملکي کسان ووژل شول او ۷۹ نور ټپیان شول. داعش د پیښې مسولیت ومانه.[18] دغه برید په تیره بیا په کابل ښار کې د نورو بې توپیره ځانمرګي بیردونو له جملې څخه بې مثاله برید وه، چې په

[15] یوناما په ۲۰۱۷ کال کې د فرقه ییز انګیزه لرونکي بریدونو په پایله کې په کومو کې چې شیعه مسلمانان په نښه کړې ټولټال ۵۵۱ ملکي تلفات (۲۰۷ مړینې او ۳۳۹ ټپې کیدنې) مستند کړي. د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د افغانستان د ۲۰۱۷ کال کلنې راپور ۴۱ پاڼې ته مراجعه وکړئ.

[16] د مسولیت ادعا په لاندې انټرنیټي پته د لاسرسي وړ ده: https://twitter.com/Terror_Monitor/status/1037533194352906240, په وروستي ځل د ۲۰۱۸ کال د د سپټمبر په ۱۶ ورته لاسرسی شوی.

[17] د مسولیت ادعا په لاندې انټرنیټي پته د لاسرسي وړ ده:https://twitter.com/Terror_Monitor/status/1025891355548180480 (شیعه ټولنې هدف ګرځولو ته ته حواله ورکړل شوې) او https://f.top4top.net/p_9587g3kp1.jpg (using sectarian language), په وروستي ځل د ۲۰۱۸ کال د سپټمبر په ۱۶ ورته لاسرسی شوی.

[18] د مسولیت ادعا په لاندې انټرنیټي پته د لاسرسي وړ ده:https://twitter.com/Terror_Monitor/status/1021173450000306176 په وروستي ځل د اګسټ په ۸ ورته لاسرسی شوی.

ګڼ میشتو سیمو کې د زیات مقدار چاودیدونکو توکو په کارولو سره دولتي چارواکي هدف ګرزوي او پلي خلک چې خپل ورځنۍ ژوند پر مخ وړي وژني او ټپي کوي.

د غیر ځانمرګو بریدونو زیاتره ملکي تلفات د فشار په ذریعه ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د چولو په نتیجه کې چې زیاتره یې د دولت ضد عناصرو په تیره بیا د طالبانو له خوا ځاي پر ځای کیږي را منځ ته کیږي. د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله د فشار په ذریعه د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو د ۳۳ سلنې کموالي سربیره، یوناما د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ نیټې څخه بیا د اګسټ د میاشتې تر ۳۱ نیټې پورې د قرباني شخص په واسطه د فعالیدونکو چاودیدونکو توکو په پایله کې ټولټال ۵۴۴ ملکي تلفات(۲۰۱ وژنې او ټپي کیدنې ) مستند کړې. د فشار په ذریعه فعالیدونکو چاودیدونکو توکو په دوامداره توګه ملکي کسان وژلي او معیوب کړي او د هغو کورنیو ژوند له منځه وړي چې کله وروسته جګړې پای مومي. د بیلګې په توګه، د جولای په ۲۷ د میدان وردګو په ولایت کې د طالبانو له خوا فشاري ایښودل شوې چاودیدونکې آله هغه مهال چې کله په سیمه کې ماشوم څاروي پوول او پرې ور برابر شو وچاودیدله چې په نتیجه کې یې ماشوم ووژل شو او نور دوه هلکان ټپیان شول.

د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د فشار آلو او نورو پرسونل ضد ماینونو په دوامداره توګه د پام وړ ملکي تلفات اړولي. د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د فشار آلو د ککړتیا د ننګونو سربیره، دولت د چاودیدونکو توکو آلو د ایسته کولو چارې ادامه لري او د ملکي کسانو د ساتنې په موخه هڅې را منځ ته کوي او د اوټاوا د ماینونو د مخنیوي د تړون لاندې د خپلو ژمنو په برخه کې پرمختګ کوي او تر ۲۰۲۳ کال پورې افغانستان د ماینونو څخه پاک وضعیت ته راوګرزوي.[19]

**د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د عمدي او بې توپیره بریدونو په واسطه تر ټولو متاثره شوې ولایتونه**

*" زه یو غیرنیوکی یم. زه هره ورځ د ناظر کلا سیمې (کابل ښار) د میوند سپورتي لوبغالي ته د سپورت لپاره ځم. د سپټمبر په پنځمه، زه د کالیو د تبدیلولو په خونه کې وم چې کله ما ناڅاپه یو تکان لرونکی غږ واورید او ما داسې فکر وکړ چې ماته ډیر نږدې و. چاودنه دومره زوره وره وه چې ما د یو څه وخت لپاره څه نه اوریدل. ما لیده چې یو تور دود زما تر شاخوا را چاپیر دی خو زه په ریښتیا نه پوهیدم چې څه واقع دي. کم و چې زه خپل هوش له لاسه ورکړم. نا څاپه ما خپل ملګری ولید چې چیغې وهي او د مرستې غوښتنه کوي. په یو ډول مې وکولای شوای ځان خپل ملګري ته ور نږدې کړم. ما ولید چې پښه یې لا له ورانډې پرې شوې. ما د هغه پښه په خپل څادر وتړله او له لوبغالي څخه مې د باندې را وایست. د راوتلو په وخت کې مې د خپلو ملګرو پراته جسدونه او اندامونه ولیدل. زه اړ وم چې په جسدونو او د وینو له ډنډ څخه تیر شم. بیا د لوبغالي د باندې وار له مخه د ټولنې خلک را رسیدلي وو هغوی زه او زما ملګری نږدې روغتون ته یوورو. ما د دې جرئت نه درلود چې خپل ملګری ووینم ځکه چې زه په دې نه پوهیدم چې زه به وکولای شم هغه بې پښې ووینم. زه هم په قهر او هم خواشینی یم چې دا عش او یا نور څوک به دومره وحشي وي، هغوی څنګه کولای شي جرئت وکړي په خپلو مسلمانو ملګرو څوک چې د دوي په شان په الله او د توحید په کلمې باور لري په ملکیانو خپل بریدونه توجیه کړي."*

*د سپټمبر په پنځمه، د کابل په ښار کې په یوه ورزشي مرکز په ځانمرګي برید کې یو ټپي شوی ۱۷ کلن هلک*

د وسله والې نښتې په نتیجه کې، په تیره بیا د کابل پلازمینې په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د دولت ضد عناصرو له خوا د ځان وژونکو ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د کارولو له امله د ملکي کسانو تر ټولو لوړ ارقام ثبت کړې. د دغو تلفاتو د ۹۹ سلنې په درلودلو سره، د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ نیټې او د اګست د میاشتې د ۳۱ نیټې تر منځ، یوناما د کابل په ښار کې ۱۴۰۲ ملکي تلفات (۴۳۳ مړینې او ۹۶۹ ټپي کیدنې) مستند کړي. په ۲۰۱۸ کال کې یوناما په کابل ولایت کې د ځای په ځای شوي

[19] د نورو معلوماتو لپاره لاندې انټرنیټي پته وګورئ: .http://www.mineaction.org/programmes/afghanistan

چاودیدونکو توکو تلفات ۳۴ پیښې په کومو کې چې ملکیانو ته تلفات اوښتي (د لاس جوړ چاودیدونکو توکو ۲۳ بریدونه او د غیر ځانمرګې لاس جوړ چاودیدونکو توکو ۱۱ بریدونه) مستند کړې.

د ننګرهار ولایت ، په ځانګړي ډول د جلال اباد په ښار کې د ځاي پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د بریدونو، چې ډیری یې د ځانمرګو بریدونو په پایله کې د کومو مسولیت چې داعش ډلې منلی، په زیاتیدونکې توګه ملکي کسان اغیزمن کړي. د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ او د اګسټ د میاشتې د ۳۱ نیټو تر منځ، یوناما په ننګرهار ولایت کې د ۷۸ ځانمرګو او نور ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو بریدونو په نتیجه کې ټولټال ۹۹۱ملکي تلفات (۲۶۸ مړینې او ۷۲۳ ټپي کیدنې) مستند کړې. دا د ۲۰۱۷ کال په پرتله شپږ برابره زیاتوالی ښیي.[20] د ۲/۳ څخه زیات ملکي تلفات د هغو بریدونو له امله را منځ ته شوې د کومو مسولیت چې داعش ډلې منلي. په ۲۰۱۸ کال کې یوناما د ځاي پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ۱۶ ځانمرګې بریدونه او د غیر ځانمرګو ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو ۶۲ بریدونه ریکارډ کړې چې په ننګرهار ولایت کې یې ملکسانو ته تلفات اړولي.

د هلمند او کندهار په ولایتونو کې هم د دولت ضد عناصرو له خوا د ځانمرګې او غیر ځانمرګې لاس جوړ چاودیدونکو توکو د سختو پایلو له امله په دوامداره توګه ملکیان اغیزمن شوي دي. د هلمند په ولایت کې د جنوري د میاشتې د لومړۍ نیټې او د جولای د میاشتې د ۳۱ نیټو تر منځ، د ځانمرګې بریدونو په پایله کې د ځاي پر ځای شویو چاودیدونکو توکو له امله د نږدې ۲۳۹ ملکي تلفاتو (۶۴ مړینې او ۱۷۵ ټپي کیدنې) له جملې څخه یې نیمایي ملکي تلفات و او پاته برخه یې د فشار په ذریعه د فعالیدونکو چاودیدونکو توکو له امله را منځ ته شوي. په یوه وحشیانه برید کې چې موخه یې د ملکیانو په نښه کول و، د مارچ په ۲۳ یوه ځانمرګي بریدګر په چاودیدونکو توکو بار یوه ځانوژونکې نقیله وسیله د ولایتونو تر منځ د غیږ نیولو د سیالۍ د ځای د باندې چې کله نندارچیان د پیښې څخه د وتو په حال کې و، وچوله چې په نتیجه کې یې د نهو ماشومانو په شمول ۱۵ ملکیان ووژل او د ۱۱ هلکانو په شمول ۴۷ تنه ټپیان کړل.

په وروستیو کلونو کې د جګړو څخه پاته شوني د فشار په ذریعه لاس جوړ چاودیدونکي توکي لا هم د کندهار ولایت په یو شمیر سیمو کې چیرې چې د فشار په ذریعه فعالیدونکو چاودیدونکو توکو او نورو غیر ځانمرګي لاس جوړ چاودیدونکو توکو ملکي کسانو ته زیات تلفات اړولي او په ولایت کې د دولت ضد عناصرو له خوا د لاس جوړ چاودیدونکو توکو کارولو ته منسوب شوې، د ډیرې اندیښنې وړ دي. دولت ضد عناصرو د ریموټ کنټرول له لارې د لاس جوړ چاودیدونکو توکو په ذریعه په ملکي کڼ میشتو سیمو کې په ځانګړي ډول د کندهار په ولایت کې په دوامداره توګه ملکي کسان په نښه کړي.

**حقوقي چوکاټ**

یوناما پر دې ټینګار کوي، پر ولسي وګړو بریدونه او دغه راز د ځانمرګو لاس جوړ چاودېدونکو توکو بې توپیره کارونه د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې ګڼل کېږي، چې ښایي جنګي جرمونه وشمیرل شي.[21] د یوناما ماموریت یو ځل بیا دولت ضد عناصرو ته د دې یادونه کوي، چې د بشرپالنې نړیوال قانون ټول هغه بریدونه منع کوي، چې د ملکیانو د ژوند د اتفاقي زیان، ژوبلې یا د ملکي شیانو د زیان لامل کېږي، چې له هغې حقیقي او مخامخ نظامي بریا څخه یې اندازه زیاته وي، د کومې چې

[20] یوناما په ننګرهار کې د ځانمرګو او نورو ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو په نتیجه کې ټولټال ۱۴۱ ملکي تلفات (۳۱ مړینې او ۱۱۰ ټپژې کیدنې) مستند کړې.

[21] په جنګي جرمونو کې د ژوند او اشخاصو په وړاندې د تاوتریخوالي په ګډون هغه کړنې چې د دریمې مشترکې مادې له خوا د هغو اشخاصو په وړاندې منع شوي، چې په جګړو په مستقیم ډول برخه نه اخلي، هغه کړنې چې د دویم الحاقي پروتوکول د ۴ (۲) مادې له خوا منع شوي: او پر ملکیانو او ملکي شیان عمدي بریدونه شاملېږي. د روم د اساسنامې ۸ (۲) (سي)، ۸ (۲) (ای) (آی) مادې؛ د آی سي آر سي د نړیوال عرفي قانون د څېړنې ۱۵۶ قاعده وګورئ. که څه هم د روم اساسنامه په داخلي شخړو کې بې توپیره او بې تناسبه بریدونه جرمونه نه ګڼي، خو دغه ډول بریدونه ښایي په ځینو حالاتو کې پر ملکیانو د مستقیمو بریدونو شونتیا لوړه کړي. د مثال په ډول د سټینسلوف ګلیخ د ۲۰۰۶ کال د نومبر د ۳۰ د آي ۹۸- ۲۹- اي دوسیې د اپیل قضیې ۱۳۲ او ۱۳۳ پراګرافونه. دغه راز د آی سي ار سي د نړیوال عرفي قانون د څېړنې ۱۵۶ قاعده؛ د روم اساسنامې اساسنامې ۸ (۲) (سي)، ۸ (۲) (ای) (آی) مادې؛ څارنوال و ډوسکو تادیچ، ای ټي-۹۴-۱، د قلمرو په هکله د تمهیدي استناف لپاره د دفاعي حرکت او وړاندېز په هکله د استناف د خونې پریکړه، د ۱۹۹۵ د اکتوبر دویمه، له ۱۲۰ تر ۱۹۹۵ پاراګرافونه.

تمه کیدای شي. [22] یوناما له دولت ضد عناصرو څخه د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو پر مهال او په ټولو ملکي میشتو سیمو کې، د ځای په ځای شوي چاودېدونکو توکو کارونه زر تر زره بنده کړي.

یوناما یادونه کوي چې د قرباني شخص په واسطه فعالیدونکي چاودیدنکي توکي چې د دولت ضد عناصرو له خوا د افغان ملي امنیتي ځواکونو د هدف نیولو لپاره کارول کیږي جوړښت کې بې توپیره دي ځکه چې د هغوي اغیزې د یوه خاص هدف په وړاندې نه شي رهبري کیداي. د دې علاوه، د فشار په ذریعه فعالیدونکي چاودیدونکي توکي په هغو سړکونو چې په دوامداره توګه د ملکي کسانو له خوا کارول کیږي، ښخیږي. د دې مطابق، د دې توکو کارول د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه جدي سرغړونه ده او ممکن په جنګي جرمونو کې وشمیرل شي. [23]

په پای کې، هغه بریدونه چې په عمدي توګه ملکي کسان په نښه کوي، د ملکي کسانو وژنه د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه جدي سرغړونه ده او ممکن په جنګي جرمونو کې وشمیرل شي. [24] د دې علاوه، د ملکي کسانو (د دیني او/ یا قومي لړکیو ) په وړاندې د پراخو او سیستماتیکو بریدونو ترسره کول په کومو کې چې ملکي کسان په عمدي توګه وژل کیږي ښایې د بشریت په وړاندې په جرمونو کې وشمیرل شي. [25] نړیوال بشر دوستانه قانون او نړیوال جنایي قانون هغه بریدونه منع کوي چې د عبادت ځایونو په وړاندې ترسره کیږي کوم چې فرهنګي جایدادونه تشکیلوي[26] او همدارنګه هغه بریدونه په کومو کې چې مرتکبین کوښښ کوي د ملکیانو او نورو خوندي موقفونه پټ وساتي څو بریدونه ترسره کړي.[27]

**سپارښتنې**

> یوناما د دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کوي چې د ملکي کسانو او ملکي اهداف په عمدي ډول په نښه کول سمدلاسه ودروي چې د دولتي چارواکو په شمول چې ملکي دندې پر مخ وړي، د بشري حقونو د مدافعینو ، قاضیانو ، خبریالانو، څارنوالانو لومړني مرسته کونکي او مرستندویه کارکونکي شامل دي.

> د خوندیتوب او امنیت د موجوده تدبیرونو د پیاوړتیا، د مخه نیونکو میکانیزمونو د ښه والي په شمول او د شیعه مسلمانانو سره د ښې همغږۍ او اړیکو څخه د یقیني کولو په موخه، د فرقه ییز انګیزه بریدونو په واسطه د لړکیو شیعه

[22] په دریيمه مشترکه ماده کې تصریح شوي، د دویم الحاقي پروتوکول، ۴ او ۱۳ مادې. د الحاقي لومړي پروتوکول ۵۱، ۸۵ (۳) (ب) مادې (په غیر نړیواله وسله واله شخړه د پلې کېدو وړ نه ده، خو د نړیوال عرفي قانون په حیث منل شوې-- وګورئ-د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د بشرپالنې د نړیوال قانون څېړنې، ۱، ۱۴، ۱۵ او ۱۵۴ قاعدې) وګورئ.

[23] د الحاقي لومړي پروتوکول ۵۱ ماده وګورئ (په غیري نړیوالي وسله والې شخړې د تطبیق وړ نه ده خو د دودیز نړیوال قانون په حیث منل شوې) د ځینو دودیزو وسلو په اړه د کنوانسیون د دوهم پروتوکول تعدیل، ۳ (۸) ماده، او د پرسونل ضد ماینونو په اړه د اوټاوا کنوانسیون، مقدمه او لومړۍ ماده، د ای سی ار سی عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون څېړنې ۱۱، ۱۲ او ۷۱ قاعدې وګورۍ او *Prosecutor v. Dusko TadiĆ*, IT-94-1، د قلمرو په اړه د نظر د تجدید د غوښتنې لپاره د دفاع په هکله د استناف د خونې پرکړه، د ۱۹۹۵ د اکتوبر دوهمه، ۱۲۷ پاراګراف.

دریمه عمومي ماده، دوهم الحاقي پروتوکول، ۴(۲)، ۱۳(۲)مادې، د روم اساسنامه، ۸ (۲)(e )(i ) مادې، د ای سی ار سی د دودیز نړیوال بشر دوستانه قانون څېړنه، ۱، ۶، ۶۸، ۱۵۶ قاعدې. [24]

[25] د بیلګې په توګه، د بشریت په وړاندې جرمونه لکه څنګه چې د روم د اساسنامي په ۷ ماده کې تعریف شوي د نورو شیانو تر څنګ لاندې موارد رانغاړي، د وژنې عملونه، ډله یزه وژنه، یا د هر ډول پیژندل شوې ډلې په وړاندې عدلي تعقیب یا د سیاسي، قومي، ملي، نژادي ، فرهنګي، مذهبي، جنډر او نورو اصولو په اړه مشارکت، او یا د ورته خصوصیت نورې غیر انساني کړنې چې په عمدي توګه د زیات درد او رنج لامل کیږي، یا د بدن یا ذهني یا فزیکي روغتیا جدي ټپی کیدنه، کله چې د برید د پوهې په درلودلو سره د ملکي کسانو په وړاندې د پراخه او سیستماتیک برید په توګه ترسره شي.

[26] دوهم الحاقي پروتوکول، ۱۶ ماده، همدارنګه د ای سی ار سی د عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون څېړنې ۳۸ قاعده وګورۍ، .د روم اساسنامه، ۸ (۲) (e) (iv) ماده په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې هغه بریدونه چې په " عمدي توګه دیني تعمرونه په نښه کوي جنایت شمیري [...] یادګاري یا تاریخي آثار [...] په دې شرط چې پوځې موخې نه وي "، د سیاسي او مدنې حقونو په اړه نړویال کنواسیون ، ۱۸ ماده.

[27] د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون څېړنه، ۶۵ قاعده، د روم اساسنامه، ۸(۲)()() او () او ۸(۲) ()() د نیرنګ(د قیافي بدلول) د بیلابیلو بڼو جنایي کول.

مسلمانانو د وګړو په وړاندې د پام وړ خطر په پام کې نیولو سره، یوناما سپارښتنه کوي چې د افغانستان دولت د خپلو وګړو د خوندیتوب په موخه لا زیاتې هڅې وکړي.

د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندې د ژمنو سره په مطابقت کې دولت ضد عناصر باید د ټولو - چاودیدونکو توکو بې توپیره او غیر متناسبه کارونه په سملاسي توګه ودروي، د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو پر مهال په هغو سیمو کې چې په مکرر ډول ملکیان پکې تګ راتګ کوي په ځان پورې د تړلو ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو او په نقیله وسیله کې ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د کارولو په شمول، باید د فشار په ذریعه د فعالیدونکو ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د کارولو سملاسي مخینوی وشي.

یوناما د نړیوالو ځواکونو او نړیوالو شریکبانو په ملاتړ سپارښتنه کوي چې د افغانستان دولت د افغان ملي امنیتي ځواکونو ظرفیت لوړولو ته ادامه ورکړي څو د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د بهره برداري په شمول د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو په وړاندې د مبارزې عملیات او د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو له منځه وړل رهبري او کنترول په موثره توګه ترسره کړي، همدارنګه دولت باید د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو سره د مبارزې د ملي ستراتیژۍ د بشپړ پلې کیدو په هدف ټول لازم تدبیرونه ترسره کړي.
یوناما د دې سپارښتنه کوي، چې نړیوال نظامي ځواکونه او نړیوال همکاران د افغان ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ جاري وساتي، څو له جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو د ساحو په نښه کولو، پاکولو او خنثی کولو کې خپل ظرفیت تقویه کړي. دغه چاره باید د هغو مکلفیتونو سره سم ترسره شي، چې افغانستان او نور هیوادونه کوم چې په افغانستان کې چاودیدونکې وسلې کاروي، یې د بشرپالنې تر نړیوال قانون او د یو شمیر مشخصو دودیزو وسلو په اړه د ۱۹۸۰ کنوانسیون د ۵م پروتوکول له مخې مکلفیت لري.

**اصطلاح ګانې**

**دولت ضد عناصر :** دولت ضد عناصر ټول هغه اشخاص او ډلې رانغاړي چې اوس مهال د افغان دولت او/یا د نړیوالو نظامي ځواکونو پر ضد په وسله واله جګړه کې ښکېل دي. په دې ډله که هغه وګړي چې د طالبانو په نامه پیژندل شوي او دغه راز هغه اشخاص او بیلا بیلې نا دولتي تنظیم شوي وسله والې ډلې، چې په جګړه کې فعاله برخه اخلي، او تر مختلفو نومونو لاندې لکه د حقاني شبکه، حزب اسلامي، د ازبکستان اسلامي حرکت، د اسلامي جهاد اتحاد، لشکر طیبه او جیش محمد، نورې هغه ډلې چې ځانونه د داعش، د اسلامي دولت غړي معرفي کوي او نورې ملیشې او وسله والې ډلې شاملې دي، چې سیاسي، ایدیالوژیکي یا اقتصادي اهداف تعقیبوي، د نورو وسله والو او جرمي ډلو په ګډون چې په جګړه کې د یوې ښکېلې خوا په استازیتوب په مستقیم ډول په جګړو کې ښکیلې وي.

**د لاس جوړ چاودیدونکي توکي (IED):** یو بم چې د دودیزې پوځي طریقې په خلاف په نورو طریقو جوړ شوی او کارول شوی وي. ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي په څلورو کتګوریو ویشل کیدای شي: د کنترول له لارې فعالېدونکي چاودېدونکي توکي، د قرباني شخص په وسیله فعالېدونکي چاودېدونکي توکي، د ځانمرګي بم په شکل کې استعمال شوي چاودېدونکي توکي او د ځای په ځای شوي نور چاودېدونکي توکي.

*د دستور له لارې فعالېدونکي د لاس جوړ چاودېدونکي توکي*- هغه رادیویي یا د لېرې واټن څخه کنترول شوي د لاس جوړ چاودېدونکي توکي (ریموټي بمونه) دي چې د لېرې واټن څخه کار کوي چې استفاده کوونکی کولای شي د وړاندې څخه ځای پر ځای شویو دغو توکو ته په یوه مناسب وخت کې چاودنه ورکړي او یو متحرک هدف په نږدې کېدو سره تر برید لاندې راولي. د ځای په ځای شوي دغو چاودیدونکو توکو کې لاندني توکي شامل دي: د استفاده کوونکي په ذریعه فعالېدونکي چاودېدونکي توکي، لکه د سړک د غاړې بمونه او په شیانو یا حیواناتو پورې تړل شوي چاودېدونکي توکي لکه موټر، بایسکل، موټر سایکلونه او مرکب. مقناطیسي- چاودیدنکي توکي د یوې مقناطیسي او یا نورو وسیلو په واسطه نښلول کېږي او دا د دستور له لارې د فعالېدونکو چاودېدونکو توکو فرعي کټګوري ده؛ په افغانستان کې په عادي ډول انتقال د میتود له امله یوناما دا وسیلې په جلا ډول ثبت کوي، لکه په نښه شوي یا هدف ګرځول شوي اشخاصو په نقیله وسیلو کې د دغو توکو ځای په ځای کول.

*د قرباني شخص په ذریعه فعالېدونکي ځای په ځاي شوي چاودېدونکي توکي*- دغه چاودېدونکي توکي هغه وخت فعاله کېږي چې کله يو شخص او يا موټر د پټاقۍ سويچ ته فشار ورکړي، دغه سويچ ممکن فشاري وي يا د فشار د خوشې کېدو سيستېم وي او يا هم د کش کولو سيم يا د کوم بل سيستېم په توګه وي چې د چاودنې لامل کيږي.

*د ځای په ځاي شوي چاودېدونکي توکي*- په دې کټګورۍ کې عام تاري بمونه او ساعتی بمونه او د لاس جوړ هغه چاودېدونکي توکي شامل دي چې د چاودنې لپاره يې د پټاقۍ يا سويچ ډول يې نه معلوميږي.

*ځانمرګي د لاس جوړ چاودېدونکي توکي*- د لاس جوړ چاودېدونکو توکو په هکله د معلوماتو سربيره، يوناما د ځانمرګو او ډله ييزو بريدونو له امله ملکي تلفات جلا مستند کوي. ځانمرګي ځای په ځاي شوي چاوديدونکي توکي په عمومي توګه په ځان پورې نښول شوي وي په موټر ځانمرګي بم ځای پر ځای شوي وي. ځانمرګي هغه حالت ته راجع کيږي، چې يوه ځانمرګی بريدګر په کې له چاوديدونکو توکو ډک واسکټ يا کمربند اغوستی وي په داسې حال کې چې ځانمرګی موټر بم د داسې يوه حالت په څېر تعريف شوي، په کوم کې چې په موټر کې د سپور ډرايور يا سپرلۍ له خوا په موټر کې ځای په ځاي شوي چاودېدونکي توکي وچول شي، يا د ډرايور يا سپرلۍ له خوا په موټر کې په ځان پورې تړل شوی چاوديدونکي توکي وچوي.

**د ځای په ځاي شوي چاوديدنکو توکو استحصال:** د ځای په ځاي شوي چاودېدونکو توکو استحصال د هغو معلوماتو او موادو د تشخيص، راټولولو، پروسس او معلوماتو خپرولو پروسه ده چې د لاس جوړ چاوېدنکو توکو د پېښې له ځاي څخه راټول شوي وي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي، د ځای په ځاي شوي  چاودېدونکو توکو ضد پروسيجرونه او ميتودونه غښتلي شي او د ياغيانو منابع کمزوري کړای شي او د دوي د عدلي تعقيب ملاتړ وشي. په دې کې ځای په ځاي شوي چاودېدونکو توکو ساتنه، د مختلفو برخو تشخيصونه، تخنيکي، عدلي طب او بايومتريک ازموينې او شننې شامل دي، چې د با صلاحيته متخصصو مرکزونو له لورې تر سره کيږي.